# د انټرنیټي بازارموندنې تکتیکونه

ژباړه او زیاتونه : میراحمد یاد

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم : په انټرنيټي بازار موندنه کې تکتيکونه
ليکوال : حسن قلي زاده
ژباړه او زياتونه : ميراحمد ياد



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډ ا لـــی

صادق ترابزي ته چې زه ورته له ډیرې مینې (کاکا ) وایم.

# یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې پوهیږئ چې ولې ځیني خلک په خپل انټرنېټي کاروبار کې بریالي دي؟

په انټرنېټي کاروبار کې دا مهمه نده، چې ستاسو عمر څومره دی؟ څومره پانګه لرئ او په کوم ځای کې ژوند کوئ؟ د بریالیتوب یو لامل خپلو پېرودونکو یا مخاطبینو ته د نوې ایډیا یا مفکورې له مخې د یوه کار یا خدمت رامنځته کول دي.

د انټرنېټي کار رامنځته کول داسې وي لکه انسان چې په یوه اوږد سفر وځي. د داسې ځای سفر چې تاسو یې په اړه هېڅ مالومات نه لرئ او د هغو خلکو تجربې هم درسره هېڅ مرسته نه کوي، چې تر تاسو مخکې یې سفرونه کړي دي. ستاسو یوازیني لارښوود یوه نقشه ده، چې تاسو سره مرسته کوي او په دې اوږده سفر کې ستاسو ملګري کوي. په انټرنېټي کاروبار کې دې نقشې ته سوداګریز پلان **(Business plan)** وايي.

که څوک غواړي چې د خپلې بازار موندنې د سنجش معیار وټاکي؛ نو داسې عوامل باید ولري چې پر لاندې درېیو مفاهیمو مثبتې اغیزې ولري:

1. د پېرودونکو جذب
2. د پېرودونکو ساتنه
3. د ګټې ترلاسه کول

آیا پوهېدئ؟ چې په افغانستان کې د انټرنېټ کاروونکو شمېر ورځ تر بلې زیاتیږي. د یوې سروې له مخې اوس په افغانستان کې د انټرنېټ کاروونکو شمېر (**۲.۵۱** ) میلیونه تنه دي چې (**۲۵۸۰۰۰** ) کسان یې یوازې فیسبوک کاروي او په انټرنېټ کې افغانستان ته اړوند (۱۲۰۰) ویبپاڼې فعالیت کوي. پدې کې زیاتره کاروونکي پخپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځنده ټېلېفونونو کې انټرنېټ کاروي او لدې لارې له بېلابېلو مخابراتي کمپنیو سره په اړیکه کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازار موندنه څه ته وايي؟

د ډېر خرڅلاو په موخه د ټولو اداري فعاليتونو همغږي کولو ته بازار موندنه وايي. ځينې کتابونه يې د پېردوونکو رضايت ترلاسه کول او ورسره تلپاتې اړيکې پالل هم ګڼي.



په هر صورت، دا مهمه نده چې بازارموندنه څنګه تعريف کړو بلکې مهمه دا ده چې پوه شو، په اوسني عصري دور کې بې له بازارموندنې کاروبار ناشونی دی او تر دې مهمه دا چې بازارموندنه يوازې ( سوداګريز اعلانونه ) ندي !

بازار ته په مناسبه بيه د مناسب توکي يا خدمت وړاندې کولو ته هم بازارموندنه وايي. دا تېروتنه ده چې يوازې لنډو سوداګريزو پېغامونو ته بازارموندنه ووايو. د بازارموندنې په اړه بايد څرګند او روښانه تعريف ولرو او اوږدمهالی زمان او مکان يې بايد په نظر کې ونيسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازارموندنه په ډېرو کاروبارونو کې پکارېږي؛ خو تر اوسه ډېرو خلکو ته نده مشخصه شوې او زیاتره تبلیغات (اعلانونه) بازارموندنه ګڼل کېږي. بازارموندنه د بازار او پېرودونکو په اړه بحث دی. که شرکت غواړي بریالیتوب ترلاسه کړي؛ نو خپله بریا باید د پېرودونکو په ارمانونو او د بازار په غوښتنو پورې وتړي.
بازارموندنه د نویو توکو (محصولاتو)، ارزیابۍ، بروشوري موجودیت، د ځانګړو مجلو او د خبري پروګرامونو او منطقي بیو ټولګه ده. موږ به د بازارموندنې په خوند هله پوه شو، چې د انټرنېټي بازارموندنې په اړه سراسري نظر او لنډ مالومات ولرو.

د بازارموندنې د لارو چارو بدلون:
د یوې لارې او بنې تکرار د ډېر وخت لپاره ګټور نه وي؛ نو هڅه وکړئ چې د بازارموندنې په برخه کې خپله کاري بڼه بدله کړئ او نوښتونه پکې وکړئ. که ستاسو د اعلان متن یا ډول بدل نشي، پېرودونکي مو ترې ستړي کېږي او کیدای شي تاسو خپله هم ترې ستړي شئ. بازارموندنه کېدای شي تفریحي شکل ولري، تاسو له بېلابېلو لارو چارو کار واخلئ، چې له پېرودونکو سره مو اړیکې ستړې کوونکي نه وي او د ډېر وخت لپاره دوام وکړي.
خو د بازارموندنې د بڼې په ټاکنه کې ډېر غور وکړئ. تل باید د یوې کامیابې بازارموندنې لپاره د بازارموندنې په پلان یا طرحې کار وکړئ. د خپلو طرحو او تګلارو په اړه له پېرودونکو نظرونه واخلئ، دا نظرونه کولای شي چې ستاسو د بازارموندنې طرحه تضمین کړي.
د بازارموندنې د مفهوم پدې برخه کې به انټرنېټي بازارموندنې، د هغې د کاري لارو چارو او ګټو په اړه خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انټرنېټي بازار موندنه څه ته وايي؟

انټرنېټي بازارموندنه، چې برېښنايي خرڅلاو، ويب سايټي خرڅلاو، او پر ليکه يا **(Online)** بازارموندنه هم ورته ويل کيږي؛ د انټرنېټ په مرسته د توکو او پالنو (خدمتونو) وړاندې کولو او پېرلو ته وايي. د انټرنېټي بازارموندنې ساحه ډېره پراخه ده، ځکه پدې کې نه يوازې د انټرنېټ له لارې د توکو او خدمتونو پلور کيږي، بلکې د برېښناليک او نورو برېښنايي لارو د سوداګريزو فعاليتونو ترسره کول هم پکې رانغاړل کيږي.

د پېرودونکو د اسنادو **(Data)** مديريت او ورسره برېښنايي اړيکې هم د انټرنېټي بازارموندنې په ساحه کې راځي. انټرنېټي بازارموندنه، د انټرنېټ فني او خلاقيتي ځانګړنې سره تړي، چې پلان (طراحي)، پراختيا، تبليغات او خرڅلاو پکې شامل دي.

د انټرنېټ منځ ته راتګ تقريباً هر چاته دا شونې کړه، چې په کمپيوټر، موبايل يا نورو وسايلو کې يوازې څو کليکونه وکړئ او خپل محصول يا خدماتو ته پېرودونکي پېدا کړي. انټرنېټي بازارموندنه په اصل کې د څو کلونو پخوانۍ روايتي بازارموندنې ادامه ده. د انټرنېټ له لارې خرڅلاو کېداى شي ټولو لويو او وړو کاروبارونو ته ګټور وي. يوازې هغه ټکي بايد په پام کې ونيول شي چې د انټرنېټي بازارموندنې اصلي هسته جوړوي.

د هدف بازار **Target market** څېړل، د انټرنېټي بازارموندنې اصلي او مهمه برخه ده. مهمه نده چې څومره خلک په پېر او پلور لګيا دي بلکې مهمه دا ده چې خلک کوم شيان نه خوښوي. هر څوک چې انټرنېټي کاروبار سره شوق لري، تر هر څه لومړى ورته څېړنه اړينه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې څېړنې ته د هدف بازار (څېړنه) وایي، چې و پوهېږې، خلک دا سې څه پلوري چې ټول پېرودونکي ورپسې دي او ترې پیري یې.
په بازارموندنه کې د بریالیتوب اصلي کونجي څېړنه او هدفمندي ده، له دې پرته په بازارموندنه کې هره کړنه بې ګټې او ناکامه ده.
پخواني بازار موندونکي اړ وو، چې له پېرودونکو سره د اړیکو لپاره په عامو ځایونو، لویو دوکانونو، مېلو او منډیانو تکیه وکړي؛ خو ددې ټولو شیانو عصري ځای ناستې ویب سایټ دي. لکه څنګه چې یو دوکاندار غواړي د پېرودونکو لپاره خپل دوکان په مناسب ځای او زړه راښکونکې بڼه جوړ کړي، په همدې توګه باید ویب سایټ هم مسلکي او زړه راښکونکی وي. په یوه ښه ویب سایټ کې باید پېرودونکو ته د هغوی د اړتیا وړ، مناسب او نوي مالومات وړاندې شي، څو پېرودونکي وکولای شئ، لدې لارې د توکي په اړه خپل وړاندیز ورکړي، د خپلې خوښې وړ توکي ترلاسه کړ ي او پېسې یې ورکړي.
انټرنیټي بازارموندنه هم د نورو کاروبارونو په شان په پېرودونکو او هغوی سره په معاملاتو ولاړه ده. خپل وېب سایټ ته د ډیرو کتونکو رابلل په انټرنیټي بازارموندنه کې د بریا کونجي ده. د سایټ هجوم (ترافیک) د انټرنیټي بازارموندنې د ملا تیر دی او ددې موخې ترلاسه کولو لپاره بېلابېلې لارې چارې موجودې دي.
له انټرنېټ څخه د ګټې ترلاسه کولو لپاره تر ټولو ښه اقدام پدې پوهیدل دي، چې څه وپلورم، ویب سایټ ورته جوړ کړم او کتونکي ورته راوبلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په انټرنېټي کاروبار کې ۳ عامې تېروتنې

### له انټرنېټي کاروباره مو موخه څه ده ؟

موږ ټول اورو چې د کاروبار د پېلولو لپاره د قوي محرک، شوق او ولولې اړتیا ده؛ خو یوازې ددې لومړنیو توکو لرل د کاروبار پرمخ وړلو لپاره کفایت نه کوي.

### څنګه پیسې ترلاسه کوئ؟

مثلا ، تاسو غواړئ یو دوکان جوړ کړئ، مناسب ځای مو پیدا کړ، اوس یې باید (پېشکي) کرایه ورکړئ. کېدای شي د دوکان ډیزاین هم ډېر لګښت ولري. پرته له دې چې پدې لګښتونو فکر وکړئ، ستاسو توکي هم پوره ندي او د بازارموندنې په اړه یې هم فکر نه کوئ؛ نو په څو میاشتو کې به مو کاروبار له سقوط سره مخ شي.

بازارموندنه په بل عبارت پر توکو تمرکز او پانګونه ده. که تاسو پخپلو توکو پانګونه او تمرکز ونه لرئ، نشئ کولای چې هغه له خپلې خوښې سره سم وپلورئ.

### ټيټې بیې

د انټرنېټي بازارموندنې نوي کاروباریان هم کله کله په شمېر (کمیت) وغولېږي او کیفیت ته پاملرنه نه کوي. دوی فکر کوي چې، که د توکو بیې ټيټې وي؛ نو خرڅلاو به یې زیات شي او په لږ وخت کې به میلیونران شي خو دا فکر ناسم دی.

د انټرنېټي کاروبار نوي پېلوونکي د خپلو توکو بیه ډېره ټيټه په نظر کې نیسي او پدې ډول بیا وروسته هر وخت پدې فکر کې وي، چې پیسې له کومه ځایه ترلاسه کړي، تردې چې کله د پېرودونکي لخوا فرمایش ترلاسه کوي؛ نو هم ډېر خوند نه ورکوي، ځکه دوی ته په کافي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه ګټه نه لري. یو بله ستونزه دا ده چې دوی خپلو توکو د بیو لوړولو توجیه نه لري.
دا چې د بیې توجیه څه ته وایي او په بازارموندنه کې څه ګټه لري، د (خرڅلاو ) په برخه کې به پرې بحث وکړو ، چې د خرڅلاو د زیاتېدو له اصلي لاملونو څخه دي.
له قیمت ګذارۍ مخکې پر هر څه فکر وکړئ. ثابت او متغییر لګښتونه محاسبه کړئ، سوداګریزه بڼه او د سیالو (رقیبانو ) بیې په نظر کې ونیسئ. بیا خپله د خرڅلاو ستراتیژي رامنځته کړئ او د خپلې خوښې وړ ګټه وسنجوئ.
موږ باوري یو چې تاسو هر څومره په ویب سایټ پانګونه کوئ په هماغه کچه باید د پانګې بېرته راتګ او پېرودونکي هم ولرئ.
بازارموندونکي باید له خپل توان سره سم په هر ځای کې له دې چارې کار واخلي. د بېلګې په ډول، باید وکولای شئ چې ددې حس په مرسته د پېرودونکو غوښتنې او اړتیاوې درک کړي او له هغوی سره په راکړې ورکړې کې ترې ګټه واخلي.
په ټولیزه توګه ویلای شو چې، که موږ د پېرودونکو اړتیاوې او غوښتنې وپېژنو ؛ نو ورسره ښه او ګټورې اړیکې رامنځته کولای شو.
ځکه پېرودونکي بېلابېل ذوقونه لري، ځینو ته کیفیت مهم وي او ځینې بیا کمیت ته لومړیتوب ورکوي، ځینو ته توکي مهم وي او ځینې نور بیا د توکو په پرتله د پلورونکي اخلاقو او کړو وړو ته ډېره پاملرنه کوي.
باید ووایو چې پېرودونکو ته یوازې ټیټې بیې مهمې ندي، ځکه ځینې پېرودونکي داسې احساس کوي چې باید ګران بیه توکي وپېري او ویې وکاروي. که دوی داسې وګڼل شي چې د (پېرقوت ) یې کم دي؛ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه یې ماتیږي. زیاتره خلک د توکو ارزښت د هغه د مادي بیې له مخې ټاکي. یو فارسي متل دي چې "د ځینو خلکو عقل په سترګو کې وي".
دا متل په زیاترو ټولنو کې سم ثابتیږي. د بېلګې په توګه د امریکا په لاس انجلس ایالت کې د کرېسمېس (نوي زیږدیز کال) په شپه یوه خولۍ د (۱۰۰۰) ډالرو په بیه ننداریې ته وړاندې شوې وه. ددې خولۍ لېدو ته دومره خلک راغلي وو، چې ټول یې په دوکان کې دننه نه ځایدل او بهر په قطار کې ولاړ وو.
کامیاب بازارموندنکي باید له دې عامل څخه د بازارموندنې په اروا پوهنه کې کار واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د برېښنالیک ( ایمیل ) له لارې بازار موندنه



د بازارموندنې ټول هغه فعالیتونه چې په ایمیل پورې تړلي وي، د برېښنالیک بازارموندنه بلل کیږي. هر برېښنالیک (ایمیل) چې تاسو یې لېږدوئ د (برېښنالیکي بازارموندنې) یوه برخه ده. دا برېښنالیک کېدای شي چې، یوه خبرتیا ، ورځپاڼه، پېغام یا حتي یوه پوښتنه وي. هر کله چې تاسو د خپل کار په اړه له خلکو په سره اړیکه کې یاست، په اصل کې تاسو خپل کار پرمخ وړئ او همدا د بازارموندنې یوه برخه یا ډول دی.

څه شی (برېښنالیکي بازارموندنه) د خرځلاو د ګټورې لارې په توګه ټاکي؟

ځو اړخونه دي، چې برېښنالیکي بازارموندنه د خرځلاو د یوې ګټورې لارې په توګه په ګوته کوي. برېښنالیکي بازارموندنه د لیږد ټکنالوجي (Push Technology) ده. مه په تمه کیږئ چې پېرودونکي ستاسو ویب سایټ پیدا کړي او وردننه شي، تاسو کولای شئ، خپل پېغامونه مخکې له مخې پېرودونکو ته واستوئ. په اصل کې تاسو خپله د خپل پېغام وخت او محتوا ټاکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برښنالیک د لیک د تعقیب تر ټولو ښه وسیله ده. دا تعقیب کېدای شي مستقیم یا مخامخ وي او یا هم کېدای شي له لېرې ځایه عملیات (Telemarketing) وي. دا ستاسو غوښتنې ته ځواب وایي او ستاسو د خرڅلاو د پانګې ببرته راتګ ګړندي کوي. د بېلګې په ډول تاسو کولای شئ چې یو مستقیم برښنالیک (ایمیل) واستوئ او بیا یې اوونۍ وروسته د برښنالیک په مرسته تعقیب کړئ. یا تاسو کولای شئ چې د هغوی د برښنالیک پته د لا ډېرو او تازه مالوماتو لېږلو لپاره په خپل لست کې زیاته کړئ او ترڅنګ یې کولای شئ چې د اتومات ځواب ورکونکي ماشین په لست کې هم، همدا برښنالیک ورزیات کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایمیل مارکیټنګ ( برښنالیکي بازارموندنه) څه ته وایي؟

د انټرنېټ په مرسته ډېر شمېر خلکو ته په برښنالیک (ایمیل ) کې د خپلو توکو او خدمتونو په اړه خبرتیاوې لیږل او خپل سایټ او بلاګ کتو ته د هغوی رابللو ته ایمیل مارکیټینګ یا برښنالیکي بازارموندنه وایي.



په ۲۰۱۱ ز کال کې امریکایي شرکتونو په ایمیل مارکیټینګ یا برښنالیکي بازارموندنه 51 . 1 میلیارده ډالر پانګونه کړې وه او ویل کیږي چې کیدای شي تر ۲۰۱۲ ز کال پورې دا رقم 46 . 2 میلیارده ډالرو ته لوړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمیل مارکیټنګ یا برېښنالیکي بازارموندنه مستقیمه ده، پدې ډول چې ستاسو یو پیغام په ډله ایزه توګه ستاسو ټولو باالفعل او باالقوه پېرودونکو ته استول کیږي. ددې برېښنالیک له لارې تاسو کولای شئ، د خپلو توکو په اړه سوداګریز پیغام هغو ټولو خلکو ته په وړیا ډول ورسوئ چې ستاسو په نظر کې دي. ایمیل مارکیټینګ له تاسو سره مرسته کوي چې کاروباري وړاندیزونه، د خرڅلاو یا مالي مرستې او خبرتیاوې یا مالومات ولرئ.

د ایمیل په مرسته د پیغام لېږل او د برېښنالیکي بازارموندنې یا ایمیل مارکیټینګ موخه د نویو پېرودونکو موندل، د هغوی باور ترلاسه کول او د نویو توکو او خدمتونو پېر ته د هغوی چمتو کول دي.

که تاسو پدې برخه کې نوي یاست کولای شئ، د معتبرو او سترو شرکتونو په برېښنالیک کې خپل سوداګریز اعلان ته ځای واخلئ او له دې لارې د پېرودونکو د باور ترلاسه کولو ترڅنګ خپل خرڅلاو ډېر کړئ. که پدې برخه کې مو ډېر وخت تېر شوي وي او د پام وړ اعتبار مو ترلاسه کړي وي؛ نو کولای شئ، په خپل برېښنالیک کې د نورو خلکو سوداګریزو خبرتیاوو ته ځای ورکړئ او له دې لارې ګټه ترلاسه کړئ. د برېښنالیکي بازارموندنې له لارې تاسو له خپلو پېرودونکو سره تلپاتې اړیکه لرلای شئ. دا لاره د پخوانیو روایتي اعلاناتو لکه پوسټرو، خبرتیاو، لوحو او تبلیغاتي بکسو په نسبت ګړندۍ او ارزانه تمامیږي او پردې سربېره تاسو کولای شئ، له دې لارې خپل غږیز، تصویري او ویډیویي اعلانات هم په وړیا ډول تر خپلو پېرودونکو ورسوئ.

آیا تاسو د یوه ویب سایټ یا بلاګ مدیر یاست؟

ایا له میاشتو میاشتو کار وروسته اوس هم د خپل سایټ لپاره په کافي اندازه لیدونکي نه لرئ؟

آیا تاسو یو پلورونکی یاست ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا تاسو کوم ځانګړی توکی (محصول) تولیدوئ؟
یا د کوم هوټل مدیر، د کومې رسنۍ مشر او یا د کومې بلې ادارې مشر یاست په ټولو کې مهمه دا ده، چې تاسو تبلیغاتو (اعلاناتو) ته اړتیا لرئ؟
کامیاب خلک تل د تبلیغاتو لپاره سهم په نظر کې نیسي ځکه تبلیغات په اوسني عصري دور کې د بریا ستر لامل دی.
خو پوښتنه دا ده چې څه ډول تبلیغات کولای شي ستاسو اړتیا پوره کړي؟
په تاسو کې څو سلنه خلک کولای شي، چې د رسنیزو تبلیغاتو درانده لګښتونه پوره کړي؟
همدا لګښتونه ددې لامل شوي چې زموږ ډېر سوداګر له تبلیغاتو تېر شي او دا ګټوره وسیله له پامه وغورځوي.
د انټرنېټ له دومره پراختیا وروسته به لږ لوستي خلک پیدا شي چې ورسره نه وي په اړیکه کې شوي او یا یې په اړه مالومات ونه لري.
د تبلیغاتي چارو کارپوهانو له همدې موضوع ګټه واخیسته او د برېښنالیکي بازارموندنې **(Email Marketing)** په نوم یوه طرحه یې وړاندې کړه. له دې لارې تاسو کولای شئ چې په خپله خوښه برېښنالیک برابر کړئ، د خپلې خوښې محتوا ورکړئ او بې له کوم محدودیته یې میلیونونو تنو سره شریک کړئ.
ایمیل مارکیټنګ له پېرودونکو سره ستاسو واټن تر څو کلیکونو رالنډ کړی دی.
آیا غواړې چې ستاسو د شرکت نوم یا لوګو **(Brand)** په ګوګل لټون کې تر ټولو لومړی ځای ولري؟
آیا تاسو له دې ستړي شوي یاست، چې د ویب سایټ لیدونکي مو کم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا تاسو هم د نورو ډېرو خلکو په څېر له خپل ویب سایټ څخه مايوسه شوي یاست او پرېښودی مو دی؟
آیا تاسو پوهیږئ ستاسو د ستونزو د حل اصلي کونجي څه ده، چې تر اوسه پورې ورته ډېره پاملرنه نده شوې؟



## برښنالیکي بازارموندنه د روایتي برښنالیکونو په پرتله

د روایتي برښنالیکونو په پرتله برښنالیکي بازارموندنه کې ځینې ګټې او زیانونه شته، چې په لنډه توګه یې بیانوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د برېښنالیکي بازارموندنې (ایمیل مارکیټینګ) ګټې:



د انټرنېټ له لارې برېښنالیکي بازارموندنې په شرکتونو کې د لاندې دلایلو له مخې رواج شوې ده.

په دقیق ډول د لګښت بېرته ورکولو امکان ( د پېر ټوکرۍ یا ورته شیانو ) په مرسته ثابته شوې چې که چېرې برېښنالیکي بازارموندنه په سم ډول ونشي؛ نو لګښت یې بیرته ورکول کیږي.

د راپورونو له مخې په اغلب ګومان تر پلټنیزې بازارموندنې **(Search marketing)** وروسته برېښنالیکي بازارموندنه دویمه پرلیکه ګټوره بازارموندنه ده.

تبلیغوونکي کولای شي له هغو ټولو شرکتونو سره اړیکې ونیسي چې دوی ترې د برېښنالیک پتې راټولې کړي او خپل سیستم ته یې پورته کړي دي.

د انټرنېټ نړۍ نیمایي کاروونکي هره ورځ د برېښنالیک د استولو او ترلاسه کولو لپاره خپل ایمیل یا برېښنالیک بکس خلاصوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېښنالیک هغه وسیله ده چې بازارموندونکي ورته لاسرسی لري. په ۲۰۰۹ ز کال کې په برتانیه کې ددې برخې پانګونې (۱۵) سلنه زیاتوالی وموند او نږدې (۲۹۲) میلیونه ډالرو ته ورسېده.

## د برېښنالیکي بازارموندنې زیانونه

په ۲۰۰۸ ز کال کې د برېښنالیکي خدمتونو د یوه شرکت **Return path** د ورکړل شوي راپور له مخې، ټول هغه برېښنالیکونه چې حتې قانوني مجوزین یې استوي په رسېدو کې له ستونزې سره مخ کیږي. ددې راپور له مخې د برېښنالیک استولو قانوني سرورونو **(Servers)** په لېږد کې د بریا (۵۲) سلنه امکان درلود. (۲۲) سلنه برېښنالیکونه په اولې مرحلې کې رد کېدل او (۸) سلنه نور یې فلتر کېدل.

هغه شرکتونه چې پخپل پلان کې برېښنالیکي بازارموندنه لري، باید باوري شي چې پروګرامونه یې د سپم **(Spam)** له قوانینو څخه سرغړونه نه کوي، لکه په امریکا او اروپا کې د بازار موندنې **(Can-spam)**، د خصوصي حریم قوانین، د الکترونیکي اړیکو د ثبت قوانین او له انټرنېټ څخه د ګټې اخستلو قوانین یا **ISP**.

د نړۍ په مهمو بحثونو کې یوه بازارموندنه هم ده، د زیاتره کارپوهانو په وېنا تر ټولو ښه بازارموندنه (خوله په خوله) ده. د بېلګې په ډول که ستاسو د کور غړي، ملګري، ټولګیوال، په بازار کې یو پېژندګلو او په پلورنځي کې یو پېرودونکي تاسو ته د یوه توکي صفت وکړي؛ نو تاسو یې پېرودلو ته ډېر لېواله کیږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو پوښتنه دا ده چې څنګه کولای شو ، خلک د خپل تو کي په اړه صفت یا تبلیغ ته چمتو کړو ؟
ددې کتاب په راتلونکې برخه کې به د بازار موندنې پراخه تعریف وکړو او ترڅنګ به یې هغه لارې چارې په ګوته کړو ، چې په عملي کولو کې یې مرسته کوي.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ويروسي بازارموندنه

ويروسي بازارموندنه د بازارموندنې يو سياست دی چې خلک پکې اړ کيږي، ستاسو د توکي په اړه نورو خلکو ته ستاسو تبليغاتي پيغام ورسوي. دا چاره کېدای شي ددې لامل شي چې تاسو خپلو وړاندې کړيو توليداتو او خدماتو ته لا ډېر پېرودونکي ولرئ.
يانې يو کس دوو ته وايي، دوه څلورو ته وايي، څلور اتو ته وايي...




د بېلګې په ډول که برېښناليکي بازارموندنه کې ستاسو په برېښناليک کې داسې يو عنصر موجود وي، چې ترلاسه کوونکي يې له بل چا سره شريک (Forward) کړي؛ نو تاسو ويروسي بازارموندنه کړې ده.
ويروسي بازارموندنه په خلکو کې د تبادلې د نرخ پورې اړه لري. که په سلو کې سل کسان ستاسو ترلاسه شوي پيغام له نورو کسانو سره شريک کړي؛ نو ستاسو پيغام به ډېر ګټور وي او بازارموندنه به ښه شوي وي. خو که همدا شمېر راکم وي؛ نو پدې صورت کې به ستاسو پيغام ګټور نه وي بلکې له سقوط سره به مخ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویروسي بازارموندنه خلکو ته دا امکان ورکوي، چې ستاسو له خدمتونو او تولیداتو څخه وړیا ګټه واخلي. دا امکان به په انټرنېټ کې ستاسو د پېرودونکو د څو چنده کېدو لپاره ښه او ګټور اقدام وي. په ویروسي بازار موندنه کې نغښتې مفکوره دا ده چې تاسو خپل تبلیغ یا اعلان له یوې ډالۍ سره نورو خلکو ته ورکوئ، چې هغوی یې یا خپله وکاوري او یا یې بل چاته ډالۍ کړي.
که تاسو (۱۰۰) کسانو ته برښنالیک واستوئ او له هغوی څخه یوازې



(۲۵) سلنه خلک دا برښنالیک خپل یو، یو ملګري ته واستوي؛ نو تاسو په ډېره اسانۍ خپل پېغام تر (۱۲۵) کسانو ورساوه. دې (۲۵) کسانو کېدای شي هېڅکله ستاسو پېغام نه وای ترلاسه کړی؛ خو تاسو د ویروسي بازارموندنې په مرسته دا کار ترسره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عصبي بازارموندنه

کېدای شي له داسې حالت سره ډیر مخ شوي یاست، چې له کوره د یوه توکي په پېر پسې راوتي یاست؛ خو کله چې بازار او دوکان ته لاړ شئ، هغه څه وانخلي چې پسې راوتي وئ. زیاتره داسې کیږي چې انسان د توکي اخیستلو په ورستیو کې پرېکړه بدله کړي. په کوم توکي پسې چې له کوره راوتی وي د هغه پرځای یو بل توکی وپېري.

کیدای شي د پلورونکي له لورې د یوې خبرې یا خاطرې رایادول د پېر په اړه زموږ پرېکړه بدله کړي. زیاتره وخت داسې هم کیږي چې موږ پوهیږو څه شي ته اړتیا لرو؛ خو پلورونکي ته د هغه څیز برعکس یو بل څه تشریح کوو.



که موږ دا ومنو چې د پېر یا اخستلو پروخت یوه ذهني پرېکړه کوو؛ نو په هر پېر کې موږ یو داسې پېچلې ذهني فعالیت ترسره کوو چې له رواني مسایلو سره کار لري.

اوس د اعصابو متخصصین له بازارموندونکو سره مرسته کوي، چې دوی د خپلو پېرودونکو اذهان ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر ژر به داسې توکي بازار ته وړاندې شي چې تاسو به یې په هېڅ صورت له پېرلو مخ نشئ اړولای.
په پنسلوانیا پوهنتون کې د اړیکو یو کارپوه عصبي بازارموندنه رد کوي، دا د مبلغینو حیله ګڼي، چې د غېر روایتي کړنلارو په مرسته د مصرفوونکو پام راګرځول کیږي. هغه وایي ( په تبلیغاتو کې تل یوازې یوه سپېڅلې موخه موجوده وه او هغه خلکو ته د لاسرسي یوه پټه هڅه او چاره ده. )
دا ویل له وخته مخکې دي، ځکه اعصاب تر ټولو پېچلی سیستم ګڼل کیږي او پردې د پوهېدلو لپاره باید له ډېرو نورو پېچلو سیستمونو او لارو چارو کار واخلو. په هرصورت عصبي بازار موندنه د بازارموندنې په ډګر کې یو نوی زیری دی.
د مدیریت پوهه، اعصاب پېژندنه، اروا پوهنه او کېدای شي د هنر یو ډول، دا ټول سره یو ځای شوي، چې له شرکتونو سره مرسته وکړي او د سیالۍ پدې لنډ تنګ بازار کې یو کارتن توکي زیات وپلوري.
د پام وړ تخنیک هماغه د پېرودونکي د ذهن لوستل دي، چې دوی څه غواړي؟ او څه ډول فکر کوي؟ د پېرودونکي ذهن د تورې جعبې په څېر دی، چې په بهرنیو شیانو لکه تبلیغات، ټولنیز چاپېریال ... او داخلي توکو یانې د انسانو په رفتار او کړنو اغېزه کوي. عصبي بازارموندنه یوه نوې کړنلاره ده، چې د پېرودونکو اعصاب پکې په دقیق ډول څېړل کیږي، ترڅو کارونه یې مشخص شي او د کړنو په ځرنګوالي کې همغږي رامنځته شي.
کله چې پېرودونکو ته لوړه بیه اعلانوو ؛ نو لامل یې باید ورته ووایو. که زموږ بیه له روایتي بیې لوړه وي که ټیټه، د بیو توجیه (لامل) د خرڅلاو د زیاتېدو لامل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګڼئ چې د عطرو یو دوکان ته لاړئ، عطر مو خوښ کړل، پلورونکي درته داسې بیه وویله چې ستاسو تر طمعې لوړه ده، پلورونکی سمدستي زیاتوي: دا عطر ډېر ښه دي، له یوې ځانګړې کمپنۍ راغلي او د یوې خاصې ګیاه څخه ویستل شوي، چې کلونه کلونه مخکې ترې د درملو په توګه ګټه پورته کېده، لرغونو باچایانو د ارامتیا لپاره دا ګیاه کاروله.

که څه هم دا خبرې د عطرو د لوړې بیې لپاره منطقي دلیل نشي کیدای؛ خو یو د ارامۍ احساس رامنځته کوي، چې د دې عطرو په پېرلو تاسو ځان ځانګړی احساسوئ.


که موږ وغواړو چې کوم توکی وپلورو او بیه یې له رایجې بیې ټیټه وي؛ نو بیا یې توجیح ته اړتیا لرو، که وغواړو چې یو مناسب لپټاپ په (۵۰۰۰) افغانۍ وپلورو؛ نو همدا ټیټه بیه یې شکونه زېږوي او دا ذهنیت انتقالوي چې لپټاپ حتمن کومه ستونزه لري یا یې کیفیت ډېر ټیټ دی خو که پېرودونکی وګوري چې موږ خپل دوکان پرېږدو یا بل کاروبار پېل کوو؛ نو د بیې په اړه یو مناسب دلیل یا توجیح رامنځته کیدای شي.

د **Dell** شرکت کله کله خپل لپټاپونه ډېر ارزانه پلوري، کله چې دوی په ټیټه بیه لپټاپونه پلوري؛ نو د لیلام اعلان کوي. د بېلګې په توګه وايي چې شرکت نوي ماډل لپټاپونه تولید کړي او غواړي په خپلو ګودامونو کې شته زاړه ماډل لپټاپونه وپلوري او ګودامونه اوزګار کړي، پدې خاطر زاړه لپټاپونه په ارزانه بیه پلوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په انټرنېټي بازارموندنه کې د ټولنیزو رسنیو ونډه




په ټولنیزو رسنیو کې موږ هره ګړۍ تصویر، فکر، ویډیو یا نور معلومات له خپلو ملګرو سره شریکوو، له هغوی څخه لایکونه او کومینټونه پرې اخلو. دې حالت ته په کتو که د یوه شرکت د بازارموندنې څانګه په ټولنیزو رسنیو کې د بازارموندنې لپاره پانګونه کوي؛ نو لګښت یې بېځایه نه دی. دا د اوسني دور یوه اړتیا ده، ځکه همدا اوس ډېر شمیر خلک فیسبوک کاروي، یانې ممکن د یوه عادي تلویزیون په پرتله د فیسبوک د کتونکو شمیر زیات وي. د انټرنېټي بازار موندنې د مدیریت لپاره یوه قوي مدیر اړتیا ده، داسې مدیر چې په ټولنه کې له شته تازه بدلونونو خبر وي او پر دې هم وپوهیږي چې څه وخت څه شي خپاره شي؟ د موادو د خپرولو لپاره د یوه منظم مهالوېش اړتیا ده، چې د همدې په مرسته بیا ستاسو د لیدونکو او لوستونکو سره د انټرنېټ له لارې اړیکې جوړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کې هم شک نشته، چې له یوې خوا مواد ، مفکورې، نظریات او اعلانات په انټرنېټ او ځانګړي ډول ټولنیزو رسنیو کې د نور په سرعت خپرېږي، خو دا وېره هم شته چې د لوستونکو او لیدونکو نظر هم همدومره زر له یوې موضوع بلې ته اوړي او تر ډېره ورته نشي تم کېدای.
له ځو کلونو راهیسې مو ږ ګورو چې ځوانان انټرنېټ ډېر کاروي؛ خو اوس له کلونو وروسته مالومېږي چې کاروونکي یوازې ځوانان نه دي، د پاخه عمر لرونکي خلک هم دې جال ته راننوتي او کیدای شي ساعتونه په ټولنیزو رسنیو کې واړوي. دا زموږ لپاره مهمه موضوع ده. ځکه کیدای شي موږ په دې مغالطې کې پاتې شو چې زموږ مخاطبین یوازې ځوانان دي، که زموږ د انټرنېټي بازار موندنې پلان یوازې د ځوانانو لپاره وي او د مشرانو لپاره برخه ونه لري؛ نو دا حقیقت باید ومنو چې په بازار موندنه کې مو نږدې نیم بازار او مخاطبین له پامه غورځولي دي.
په انټرنېټي بازارموندنه کې د ټولنیزو رسنیو ونډه له ځو اړخو مهمه ده، مثلاً له **(brand)** نیولې بیا په توکي د خلکو تر نظرونو او غبرګونونو پورې، ځکه ټولنیزې رسنۍ یوازینی داسې ځای دی چې دلته موږ له ډېرو خلکو سره یو ځای مخاخ اړیکې نیولای شو او د خپل تولید په اړه یې بیلابیل نظریات او غبرګونونه له ځان سره یاداشت کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ټولنيزو رسنيو کې د پرمختګ ستراتيژي

تر دې ځايه مو د بازارموندنې په ډګر کې د ټولنيزو رسنيو په اهميت خبرې وکړې، چې کومې او څه ډول ګټې لري؟ دلته به ځينې ستراتيژۍ په ګوته کړو چې څنګه يې په مرسته کولای شو ، په دې برخه کې پرمختګ وکړو او ډېرې لاس ته راوړنې




ترې ولرو.

د خپلو پېرودونکو په ذهن کې يوه پوښتنه پېدا کړئ، چې هغوی ستاسو موضوع ته پام وکړي او ورته تم پاتې شي.

له پېرودوونکو سره د دوه اړخيزو اړيکو لپاره دا يو اصل هم بايد په پام کې وساتو چې د بازارموندنې موضوع ته د ننوتلو لپاره يې په ذهن کې يوه پوښتنه پېدا کړو. کېدای شي له خپل پېرودونکي د خپل توليد په اړه وپوښتو ، يا د هغوی د اړتياو په اړه ترې کومه پوښتنه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه کول د خبرو پېلامه ده او وروسته مورږ پر دې پوهېدای شو چې پیردونکي څه ډول پرېکړې ته اړ کړو، یا یې څه ډول پرېکړه په خپلې ګټې رابدله کړو. بیا مورږ دا هم کولای شو، چې د توکي د پېرودلو په اړه د پېرودونکي ذهنیت بلې خوا ته رهبري کړو، هغه څه پرې وپلورو چې ممکن هغه یې د پېرلو لپاره نه وي راغلي او یا ممکن هغه خپله هم په نورو انتخابونو نه وي خبر. کیدای شي دا د پېرودونکي لپاره هم یوه ښه رهبري شي، چې د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره یو مناسب تولید وپیري. مورږ کولای شو د څه؟ څنګه؟ کله؟ ولې؟ څومره ؟ چرته؟ او نور... په ویلو ځان د پیرودونکو په اړه ډېرو شیانو پوه کړو.

زمورږ په ټولنه کې له بده مرغه د پوښتنو په اړه یو منفي ذهنیت خپور شوی دی، که مورږ چا سره خبرې کوو او ولې ټکی کاروو؛ نو زیاتره یې ځواب اورو چې ولې خو جنګ ته وایي، یا که مو ترې د یوې موضوع په اړه دوه درې پوښتنې وکړې؛ نو ممکن بده پرې ولګیږي او بیخي د نورو خبرو اجازه رانه کړي. بله خبره دا هم ده چې یو څوک ووایي ستاسو یې د چا په شخصي مالوماتو او غوښتنو څه ؟ داسې ډېرې ستونزې شته؛ خو فرانک بیچګلر د بازارموندنې په اړه په یوه کتاب کې د (ولې؟ !) تر عنوان لاندې یو فصل لیکلي او په بازارموندنه کې یې د ولې په اهمیت کې خپله یوه پخوانۍ کیسه کړې ده. بیچګلر وایي چې زه د خرڅلاو لپاره یوه کس ته لاړم. راته ویې ویل چې ستاسو توکي قیمته دي ما ورته وویل ولې؟

ویل یې بله کمپنۍ یې ارزانه راکوي.

ما ورته وویل بله کمپنۍ یې ولې ارزانه درکوي؟

ویل یې نه پوهیږم خو ترتاسو د هغوی د تولید کیفیت ښه او لوړ دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانک کیسه کوي، چې له پیردونکي پوښتنې کوي، هغه ځوابونه ورکوي او بلاخره فرانک په دې پوهیږي چې دا پېرودونکي یې څه غواړي او دی څنګه کولای شي، د خپل تولید اخیستو ته یې قانع کړي.
په ټولنیزو رسنیو کې هم له دې چارې کار اخیستي شو، مثلاً تاسو کولای شئ یوه پوښتنه ولیکئ او د خلکو ځواب ته په تمه پاتې شئ، هغوی ستاسو پوښتنه ولولي، خوښه یې کړي او په تبصرو کې درته خپل ځوابونه ولیکي.
پام پکار دی چې پوښتنه باید څه ډول وي؟ پر دې د پوهېدلو لپاره خپل مخاطبین پکار دي، چې خلک کومې موضوع سره ډېره مینه لري؟ مثلاً زموږ په ټولنه کې خلک له کریکټ، فوټبال او نورو لوبو سره مینه لري، که ترې په همدې اړه پوښتنه وشي، ممکن ډېر ځوابونه ترلاسه شي، هر ځواب به تاسو ته یوه اړیکه وي او په بازارموندنه کې هره اړیکه د پرمختګ یوه نښه ده.
یا تاسو کولای شئ چې د خپل تولید په اړه یوه پوښتنه له یوې مهمې ټولنیزې او په زړه پورې موضوع سره ونښلوئ، په دې توګه به خلک د خپل نظر څرګندولو لپاره پراخه ساحه ولري او ډېر خلک به کولای شي چې ستاسو پوښتنې ته ځوابونه ورکړي. هڅه پکار وي چې پوښتنه ډېره محدوده او مسلکي نه وي، څومره چې پوښتنې مسلکي او محدودېږي په همدې کچه یې د ځوابوونکو شمیر هم راکمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر بازارموندنکي فکر کوي چې بازارموندنه یوازې مسلکي خبرې کول او د ښو ادبیاتو کارونه ده، دا فکر ناسم دي. خرڅلاو هنر دي ! او د پلورونکي مسولیت دا نه دی چې حتمن دې خپل راوړي توکي وپلوري. پلورونکي یوازې پیرودونکي د ( پرېکړې ) په نوم یوې تنګې دایرې ته ننباسي. پوښتنې کول د بازارموندنې د اړیکو او بحث پیل دي، نو ښه بازارموندنې او خبرې لپاره باید څو داسې مناسبې پوښتنې له ځان سره ولرو، چې په کولو یې د پیردونکي په اړه د اړتیا وړ مالومات ترلاسه کړو او بیا د هغه د اړتیا پوره کولو لپاره خپل تولید




ورته وړاندې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په مناسب وخت کې مناسبه محتوا (ټولنیزې رسنۍ)

په انټرنیټي بازار موندنه کې د پوسټ او اپلوډ کولو وخت ډېر مهم ټکي دي . تاسو باید یوه شئ او یو منظم پلان ورته ولرئ چې د اوونۍ یا ورځ په کوم وخت کې څه ډول شیان خپاره کړي، چې خلک یې وګوري، ولولي او په اړه یې درته خپل نظر ولیکي. یا دوی څه غواړي څه تمه لري چې پر څه ډول پوستونو او محتویاتو یې سترګې ولګیږي.




په بازارموندنه او ځانګړې ډول انټرنیټي بازارموندنې کې همدا واړه ټکي دي چې تاسو سره مرسته کوي او د خپلو پلانونو په عملي کولو کې درته پرمختګ درکوي.

مثلاً غرمه له ډوډۍ وروسته داسې وخت دی چې زیاتره خلک ستړي وي، دمه کوي، ډوډۍ یې خوړلې وي او بیا د یوه خندونکي یا طنزیه خبرې پسې ګرځي چې یوه شیبه ورسره وخاندي او زړه یې خوشاله شي. ایرانی متل دي چې (خندا ماتې نه خوري). تفریحي او طنزیه پوستونه په لږ وخت کې ډېر کتونکي جذبولای شي. زیاتره خلک فیسبوک ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفریح او خندا لپاره راځي، زموږ په ټولنه کې چې د سواد کچه ټیټه ده، ډیر خلک فیسبوک یوازې د همدې خندونکو مطالبو لپاره ګوري او د بې سوادو خلکو ډیر شمېر دا هم ښايي، چې د تولیداتو ډیر اخستونکي به هم همدوی وي.

په فېسبوک او نورو ټولنیزو رسنیو کارولو کې د وخت او حالاتو درک ډېر مهم دی، د بېلګې په توګه یوه ورځ د کریکټ لوبه خپرېږي، ټول یا زیاتره خلک لوبې ته متوجه او د همدې لوبې په اړه پوسټونه هم کوي. که تاسو په دې ورځ یوه ښه علمي مقاله خپره کړئ، ممکن ډیر خلک یې ونه لولي، ځکه خلک ټول په دې وخت کې د روانې لوبې په اړه خبرو، انځورونو او تازه جزیاتو او تبصرو ته په تمه وي او له دې پرته نورو شیانو ته ډیر نه تم کیږي.

یا مثلاً په حکومت کې کومه ستره پرېکړه کیږي، زیاتره خلک د همدغې پرېکړې په اړه تازه جزیاتو ته په تمه وي، که تاسو په دې وخت کې تفریحي پوسټونه کوئ، ممکن ډېر خلک درپورې وخاندي او تاسو له روانو حالاتو ناخبره وګڼي.

داسې هم کیدای شي چې په هیواد کې یوه لویه غمیزه شوې وي او تاسو ددې حالت د ناسم درک له امله یوه تفریحي یا هنري موضوع شریکه کړئ. ددې په اړه به خامخا خلک ستاسو پاڼه پرېږدي او کیدای شي پر دې مو هم پړ وګڼي، چې ولې سم وخت نه وینئ او سم پوسټ نه کوئ.

یوه شخصي تجربه درسره شریکوم، د یوې دولتي ادارې ویاند په یوې ټولنیزې رسنۍ کې پاڼه لري، خلک ورسره ددې لپاره یو ځای کیږي چې د یادې ادارې په اړه ترې تازه جزیات ترلاسه کړي او پر فعالیتونو یې پوه شي. که دا ویاند د یوې مهمې پرېکړې په وخت کې خپل عکسونه پورته کوي د خلکو عکس العمل به څه وي؟ ډیر خلک به ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیله من وي او حتي په تبصرو کې به ورته وایي چې دا وخت ستاسو د عکسونو خپرولو نه دی، تاسو باید موږ د خپلې ادارې له مهمو فعالیتونو خبر کړئ.
که د بازارموندنې په برخه کې د انټرنېټي بازارموندنې ستراتیژۍ او پکې د ټولنیزو رسنیو ونډې ته پام وکړو؛ نو پرمختګ پکې کولای شو، یوازې څو مهم ټکي باید په نظر کې ونیول شي.

کله پوهیږئ چې په بازارموندنه کې ستاسو پیسې پر ځای لګېدلې دي؟
په دې اړه دوه ناسم دلیلونه ویل کیږي چې په اړه به یې دلته لږ وضاحت وکړو:
لومړی د بازارموندنې هغه فکر دی، چې د عملي کولو لارې چارې یې ډېرې عجیبې او سختې دي، یانې که یې تاسو خپلوئ، تر ډېره پرې مزل نشئ کولای.
دویم هغه بازارموندنه ده چې نږدې ټول مدیران یې کوي او هېڅ مالومه او مشخصه ګټه او پرمختګ نه لري، اوس تاسو کوم یو ټاکئ؟
زه فکر کوم حقیقت ددې دواړو لارو تر منځ دی !
که یو څوک ستاسو له شرکت او تولیداتو خبر نه وي؛ نو په بازار کې به ستاسو عمر ډېر لنډ او ونډه ډېره کمه وي. ځکه تاسو تولیدات د خلکو لپاره کوئ چې هغوی ترې خبر شي او بیا یې د خپلو غوښتنو او اړتیاوو پوره کولو لپاره له تاسو وپیري.
ددې ټولو لپاره باید په بازار کې خبرتیاوې خپرې شي، خلک خبر شي او بیا ستاسو تولید وپیري. تبلیغات یا اعلانات هم د پام راګرځولو یوه مهمه لاره ده، موږ په داسې ټولنه کې ژوند کوو چې د ډېرو وړو وړو نقطو ترلاسه کولو لپاره هم باید سیالۍ وکړو او ترلاسه یې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلانات یا سوداګریزې خبرتیاوې هم د هنر په څیر دي !
مثلاً که تاسو یو انځور رسموئ، په دې باید پوه شئ چې کوم رنګ په کوم ځای کې څومره وکاریږي؟ هر څومره چې تاسو قلم او برش ښه او مناسب کاروئ هومره به مو په ذهن کې شته فکر ښه عملي کیږي. اعلانات هم همداسې دي.
داسې میتودونه هم شته، چې ارواییې اړخ لري، یانې که یو څوک غواړي یو توکي وپلوري، هغوی مستقیماً تحریکوي او غبرګون ښودلو ته یې اړباسي.
د هر ډول معاملې یا راکړې ورکړې لپاره مناسب ځای او چاپیریال مهم شرط دی. اعلانات کولای شي د همداسې یو ځای په رامنځته کولو کې مرسته وکړي، یانې داسې یو ځای رامنځته کولای شي چې هلته سره خلک راټول شي او خبرې اترې وکړي.
که خلک په داسې یوه ځای کې سره راټول وي، تاسو کولای شئ د اعلاناتو په مرسته تر هغوی خپله خبره ورسوئ. د خپلو تولیداتو او خدماتو په اړه خبرتیاوې ورکړئ، ممکن هغوی دې تولیداتو یا خدماتو ته اړتیا لرله خو لا یې په اړه نه پوهېدل، په داسې حالت کې تاسو ته د کار زمینه تر هر بل چا ډېره برابریږي او کولای شئ چې د خپلو تولیداتو او خدماتو په پلورلو کې تر نورو خلکو یو قدم مخکې شئ.

د اغیزمنو اعلاناتو ځانګړتیاوې څه دي او ددې راکړې ورکړې لپاره وضع شوي مناسب قوانین کوم دي؟
ددې برخې (اعلاناتو ) کارکوونکو د اعلاناتو لپاره درې برخې ټاکلې دي، دلته هڅه کوو چې هغه د خرڅلاو په برخه کې بیان کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تصویر جوړونه

د هارډوارډ پوهنتون د یوې څېړنې له مخې د فیسبوک (۷۰) سلنه مواد او پوستونه تصویرونه جوړوي. (۴۴) سلنه کارکوونکي د هغو اعلاناتو سره علاقه ښیي چې د شرکتونو سوداګریزې نښې یا **(Brands)** لیږدوي. په فېسبوک کې د ښه کیفیت لرونکي او




مسلکي عکسونه تر نورو عادي هغو (۱۲۳) سلنه ډیر لیدوونکي ځانته جذبوي او هر ځل لیږلو تر (۹۰) سلنه زیات خپرېږي. پر لیکه یا (انلاین) بازارموندنه کې انځورونه مهمه حیاتي ونډه لري. هڅه وکړئ چې مسلکي او باکیفیته انځورونه خپاره کړئ. له دې سره به مو لوستونکي او پېرودونکي ستاسو په اړه پخپل ذهن کې یوه مثبته او مسلکي خاطره ولري. مسلکي او ښه عکسونه ستاسو اعلاناتو ته اعتبار ورکوي. په اعلاناتو کې چې هر څه کوئ، هڅه وکړئ نوي زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راښکونکي، مسلکي او د لوړ کیفیت لرونکي وي، چې د خلکو پام ځانته راوګرځوي. که تاسو داسې وکړئ؛ نو پخپل کې کار کې به تر نورو ډېر مخکې، ځلانده او معلوم ځای ولرئ.
په اعلاناتو او تبلیغاتي فعالیتونو کې د تصویر کارولو موخه د غبرګون رامنځته کول یا په بله مانا ، په خلکو کې د هغه ځواب لټول دي. عکس او فلم د انځورګرۍ برعکس د انساني ذهن خپل تخلیق نه دي، دا د بهرنیو پېښو او چاپیریال عکاسي ده چې موږ یې د مخاطب مخې ته ږدو ، دا لامل کیږي چې د عکسونو او فلمونو په لیدو د انسان ذهن د بهرني چاپیریال سره اړیکه پیدا کړي او فکر پرې وکړي یا هم کیداې شي په همدې وخت کې د انسان ذهن په دې بوخت شي چې د عکس چاپیریال پیدا کړي.

په ویډیویي اعلاناتو یا فلمونو کې بله ښه ځانګړنه دا ده چې لېدونکي ته د انځورګرۍ او رسم په پرتله ډېر د اعتبار وړ وي. ځکه لیدونکي د یوه حقیقي چاپیریال په لیدو دا مني، چې په اعلان کې کیدونکي کار په رښتیا هم کېداې شي، همدا فکر تر ډیره مرسته کوي، چې پېرودونکي په تولید پوره باور وکړي او هغه ټولې خبرې ومني چې یو شرکت یې د خپل تولید په اړه خلکو ته د اعلاناتو په مرسته ور رسوي.
ددې ترڅنګ اوس د ټکنالوجۍ په مرسته دا شونې ده، چې ډېرې عجیبې او زړه راښکونکې صحنې جوړې شي، چې لیدونکي ځان ته راجذب کړي او تر ډېره پورې ورسره پاتې شي یا یې په اړه تر ډېره فکر وکړي.
که څه هم د اعلاناتو په جوړولو کې پر صداقت او ریښتینولۍ ټینګار کیږي، د اعلان جوړونې متخصصین په اعلان کې د مبالغې مخالفت کوي، ځکه دوی وایي چې بیا لیدونکي د تولید په اړه هم پوره ډاډ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کوي او د شک په سترګه ورته ګوري. خو په اعلاناتو کې اصلي هدف دا دی چې خلک ستاسو له توليده خبر شي او په ذهن کې يې د پيرلو لپاره شته انګيزه راوپاريږي.

په اعلاناتو کې د ټکنالوجۍ کارونه کيدای شي ځينې خلک منفي تعبير کړي او د مبالغې يوه وسيله يې وګڼي، خو د ژوند په هر اړخ کې که موږ يو څه کاروو؛ نو مثبت او منفي اړخونه به دواړه لري. که موږ د ماشومانو يوه توليد ته اعلان جوړوو، ممکن تر ټولو ښه لاره يې د کارټون وي. د ماشوم اروا پوهان وايي چې ماشوم په وړوکتوب کې خارق العاده شيانو ته ډير خوشاليږي، که په اعلان کې يې ورسره صابون خبرې وکړي، دا به ماشوم ته عجيبه او ډېره زړه راښکونکې وي، خو که بيا ځوانانو لپاره په اعلان کې صابون خبرې وکړي، کيدای شي ځوانانو ته ډېره په زړه پورې نه وي او د توليد د ځانګړنو په اړه همداسې مبالغه اميز فکر وکړي.
د سوداګريزو اعلاناتو موخه يوازې دا هم نه ده چې ليدونکي دې ځانته راجذب کړي، بلکې د داسې يوې انګيزې او بدلون تمه ترې کيږي چې په دوکان يا د رايو د بکس مخې ته ورسره يو انسان مخ کيږي.
تصويرونه په يوه انسان يو کار نشي کولای، ياني کار ته يې مستقيماً پخپله نشي اړ کولای؛ خو په ذهن کې يې يوه سوژه او انګيزه پېدا کولای شي، چې کيدای شي وروسته د هماغې له مخې انسان د يوه کار يا پرېکړې کولو ته اړ شي.
هر انسان له تصويره يو تعبير اخلي. همدا تعبير يې وروسته په ذهن او پرېکړو اغيزه کوي. دا تعبيرونه که څه هم تصويرونو ته د ليدو په وخت کې اخيستل کيږي؛ خو تصويرونه يې مخامخ نه زيږوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خلک چې واړه شرکتونه لري او نوی یې په کار پېل کړی وي، دا ورته ورته ستونزمنه وي چې د توکو د خرڅلاو په برخه کې زر پرمختګ وکړي یا داسې خلک وګوماري چې د بازارموندنې او خرڅلاو په برخه کې مسلکي زده کړې ولري. ددې مهارتونو د زده کړې لپاره د کاروبار بنسټیزو اصولو ته پام کول او د هغوی لوستل ډیر اړین دي. که هر فرد وغواړي کولای شي یوازې په خپلې ادارې ډیره اغیزه وکړي او ډیر مثبت بدلونونه پکې راوړي.
د خپل کاروبار د ښه کولو او پرمختګ لپاره له هغو خلکو مالومات او تجربې ترلاسه کړئ، چې د ژوند ډیره برخه یې په همدې ډګر کې تیره کړې ده او کار یې پکې کړی دی. هغوی به په دې برخه کې کلونه تېر کړي وي او ډېرې زیاتې تجربې به لري. کیدای شي هغوی کلونه مخکې له دې حالته تېر شوي وي، چې تاسو ورسره اوس مخ شوي یاست.
دا حقیقت دی چې هره ورځ په هره برخه کې ډېر بدلونونه راځي. ددې بدلونونو له امله ډیر شیان، افکار، نظریات، ادارې، روایات، تکتیکونه او حتي پوهې هم زړیږي. ډیر خلک یوازې پر مخ ځي او هڅه کوي چې ځان په هر صورت **(Update)** وساتي، ډیر خلک د ښه والي معیار دا ګڼي چې ورځني راتلونکي بدلونونه عملي کړي او ځان له یوې ورځې بلې ته نوی او تازه کړي؛ خو دلته یوه خبره مهمه ده چې هر نوی راتلونکي بدلون یوه زوړ تاریخي شالید لري، هماغه زوړ حالت په ارتقایي ډول پر نوي حالت اوړي او ورځ تربلې پکې د اړتیا وړ نوي اړخونه وردننه کیږي.
بازارموندنه او په ځانګړي ډول سوداګریز اعلانات هم همداسې دي، که تاسو غواړئ چې نوی بدلون په خپلې ګټې وکاروئ، باید له تاریخي شالیده یې خبر وسئ. هېڅکله د پخوانیو خلکو او پوهانو نظریاتو او کړنو ته سپک مه ګورئ، ځکه د هرې ښې ودانۍ لپاره د ښه او قوي

(c) ketabton.com: The Digital Library





بنسټ لرل لومړی شرط دی. ورځ تر بلې راتلونکي بدلونونه درک کړئ، ځان پرې پوه کړئ او سبا ځان له همدې بدلونونه سره ځان عیار کړئ.
په ګرافیک یا حرفه یي طراحۍ یا (مرکبو تصویرونو ) کې زموږ لاس ازاد وي، موږ کولای شو د خپل تولید هغه برخې او ځانګړنې هم په ډاګه کړو چې په ساکت تصویر کې یې نشو وړاندې کولای.
کیدای شي په ځینو مواردو کې له طبیعته لرې شو، له ځینو لارو چارو کار واخلو او د خپل تولید تصویر ته ځینې داسې ځانګړنې او اړخونه ورکړو چې ډیر طبیعي نه وي، مثلاً مخکې مو د صابون د خبرو کولو یادونه وکړه. دا کار کولای شي زموږ د ډیزاین یا طراحې د ودې لامل شي.
زیاتره داسې کیږي، چې د تولید ظاهري شکل او صورت یې په ماهیت او کیفیت کومه اغیزه نه کوي، یا یې ظاهري شکل د کیفیت په پرتله ډېر مهم نه وي. په دې برخه کې موږ کولای شو له بېلابېلو سبمولونو او شکلونو ګټه واخلو، یانې دا ډیره اړینه نه ده چې زموږ تصویر دې په هر صورت زموږ د تولید یا فکر اصلي تصویر وي.
مثلاً د کتاب پښتۍ... زموږ په ټولنه کې چې زیاتره پښتۍ ډیزاین کیږي؛ نو هڅه کیږي چې د کتاب د نوم سره سم حقیقي تصویر پیدا شي او هغه پکې وکاروي. داسې ډیر وخت پېښیږي، چې یو څوک د هنري تخلیق (شعر، کیسه، ناول ... ) کتاب چاپ کړي، مثلاً که د ناول نوم د زړه درد وي، ډیزاینران هڅه کوي چې حتمن د زړه یو تصویر په پښتۍ واچوي او فکر کوم همداسې یو ډیزاین هم شوي و چې یوه ډیزاینر د شعرونو په کتاب د زړه طبي او حقیقي تصویر اچولای و. که د زړه د اصلي تصویر پر ځای د زړه د درد یو سمبول پیدا شي او د کتاب په پښتۍ چاپ شي؛ نو یو خو به د نوم ډیر جزیات ولیږدوي او له بلې خوا به هنري هم وي، چې لوستونکي به ورته ډیر متوجه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې په نورو سوداګریزو اعلاناتو کې هم کیږي. ممکن د سړک غاړو په لوحو د یوه تولید په اړه داسې یو تصویر خپور شي، چې د لیدونکو په ذهن اغېزه وکړي، ځان ته یې راجذب کړي او تولید یې تر ډېره په ذهن کې پاتې شي.





پورته تصویرونه له سګرټ څکولو سره د مبارزې د کمپاین دوه تصویرونه دي. تاسو ترې څه مطلب اخلئ؟!

په ښي لاس تصویر کې د سګرټ روغتیایي زیانونه ښودل کیږي، که څوک سګرټ څکوي، عمر یې ورسره کمیږي یا په سرطان اخته کیږي.

بل تصویر کې بیا د سګرټو مالي تاوان ته اشاره شوې ده، یانې که څوک سګرټ څکوي په عامه اصطلاح خپلو پېسو ته اور اچوي.

څه فکر کوئ که د پورته دواړو تصویرونو پر ځای یوازې له لاندیني تصویر څخه ګټه اخستل شوې وای اغېز به یې څنګه و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





په دې تصویر کې زړه راښکون ډېر کم دی، یانې د دې تصویر طراح پدې نه دی توانیدلای چې خپل مخاطب ولولي او بیا ورسره له تصویر سره یوه اړیکه یا لېنک ورکړي.
د سوداګریزو اعلاناتو لپاره په تصویر جوړونې کې مهم ټکي دغه دي چې مخاطب څه ډول له تصویر سره ذهني او عاطفي تړون پېدا کړي. په لومړنیو دوه تصویرونو کې لیدونکي ته دا احساس ورکول کیږي، چې سګرټ څکول دده خپل تاوان دی، که دې خپلې روغتیا او شتمنۍ ته پام وکړي، سګرټ به ونه څکوې، په دې صورت کې هغه تصویرونه ښه اغیز پرېښودای شي او لیدونکي یې کیدای شي هر ځل سګرټ څکولو سره خپل ذهن ته راوړي.
دویم تصویر بیا یو ساده تصویر دی چې هنري اړخ یې کمزوری دی او تر شا یې د بازارموندنې هېڅ ډول فني مفکوره نه ده پرته. دویم تصویر کې په سګرټ څکوونکي یوازې د چلیپا نښه کش شوې. دا به لیدونکي ته یوازې یو امر وي او دا حقیقت دي چې امرونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصیحتونه ډېر نه منل کېږي. کېدای شي ددې عکس پر وړاندې د مخاطب غبرګون دا وي چې ووایي، ته څوک یې چې ما منع کوې؟ یا تاته یې څه چې زه سګرټ څکوم که نه؟ یا هم زه ولې ستا خبره ومنم؟

په تصویر جوړولو کې د مخاطبینو پېژندل اړین کار دی، که یو څوک یو هنري اثر پنځوي، اړ نه دی چې خپل مخاطب ته ډېر پام وکړي، ځکه دا یوازې هغه څه غواړي روښانه کړي چې په ذهن کې یې وي، ممکن لږ داسې خلک پېدا شي چې دده پنځول شوی اثر یې خوښ شي یا پرې پوه شي.

د سوداګرۍ په اعلاناتو کې باید دې ته پام وشي، چې ستاسو د هنري تصویر مخاطبین څوک دي؟ تاسو ورته څه پیغام لرئ؟ او هغو باید ستاسو له پنځول شوي اثره په څه پوه شي؟ ځکه دلته موخه یوازې د هنرمن د ذهني وړتیا ښکاره کول نه دي، اصلي موخه مخاطبینو ته د تولید پیژندنه ده چې پنځول شوی اثر یې یوازې د لیږد وسیله ده ؛ نه هدف.

زه ډېر داسې تلویزوني اعلانات ګورم چې د ډرامې برخه یې ډېره زړه راښکونکې او له تلوسې ډکه وي، داسې اعلانات که څه هم لیدونکي ځانته راجذبوي؛ خو آیا په اعلان کې مهمه برخه یانې پیغام ترې په اسانه اخستی شي که نه؟ که چېرې د سوداګریز اعلان هنري برخه دومره ډېره وي چې مخاطب له اصلي پېغام اخیستو منع کوي یا یې ورته په رسیدو کې ستونزه جوړیږي؛ نو دا به په دې مانا وي چې موږ د هدف پر ځای وسیلې ته ډېر پام کړی دی او جوړ شوي اعلان مو د سوداګریزې په پرتله هنري جنبه ډېره لري. په اعلاناتو کې د تصویر جوړول او خپرول د تولید مشهورتیا او خبرتیا ده او دا کار هغه وخت ښه کېدای شي، چې بازار موندونکي او طراحان خپل مخاطبین سم وپېژني او بیا ورته اعلانونه جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښتنې ځوابول

په شخصي ویب سایټونو ، بلاګونو او ټولنیزو رسنیو کې د مخاطبینو پوښتنو او ابهامونو ته ځواب ورکول، کولای شي د هغوی پام ځانته راوګرځوي.



آیا تاسو سره داسې شوي، چې یوه ویب سایټ ته تللي یاست، هلته مو پوښتنه پرابېښي او بیا مو ځواب نه دی ترلاسه کړی؟
که رښتیا هم داسې شوي وي یا وشي؛ نو ستاسو غبرګون به څه وي؟ فکر کوم بیا به هیڅکله هغه سایټ ته لاړ نه شئ او ممکن د هغوی تولیدات هم ونه کاروي. که پوه شوئ چې ستاسو مخاطبین ستاسو یا ستاسو د تولید په اړه پوښتنه لري یا هم په کومه برخه کې له ابهام سره مخ دي، تاسو داسې یو مطلب خپور کړئ چې د هغوی پوښتنې او ابهامات پکې حل شي. موږ کولای شو د هر تولید لپاره پوښتنې جوړې کړو او بیا یې ځوابونه خپاره کړو چې د تولید په اړه شته پوښتنې حل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظر پوښتنه

تاسو کولای شئ په خپل سایټ یا پاڼې کې یوه نظر پوښتنه پیل کړئ او د همدغې نظر پوښتنې لینک په ټولنیزو رسنیو کې شریک کړئ، چې خلک خپل ورته ځوابونه وواییي.

دا نظر پوښتنه اړینه نه ده چې ستاسو د تولید په اړه دې وي. ستاسو د سایټ هر ځل لیدل ستاسو یو پیروېدونکی زیاتوي، ممکن تاسو په یوې ټولنیزې موضوع یوه نظر پوښتنه وکړئ، داسې یوه موضوع چې هر څوک پکې نظر ورکولای شي او ستاسو پوښتنې ځوابولای شي.

مثلاً د ټاکنو په وخت کې ډیر خلک د نوماندانو په اړه نظر پوښتنې کوي چې څوک به راتلونکو ټاکنو کې بریالي کیږي؟ د هر نوماند مینه وال ستاسو سایټ ته درځي، نظر درکوي او په ضمن کې ستاسو د کمپنۍ یا تولید په اړه ځینې مالومات هم ترلاسه کوي.

دا پوښتنې کیدای شي هنري اړخ هم ولري، مثلاً کولای شئ تاسو د کلاسیکې او عصري موسیقۍ په اړه پوښتنې وکړئ، چې کوم یې ډیر مینه وال لري، په دې توګه خلک بیا بیا ستاسو سایټ ته مراجعه کوي او ستاسو ټاکل شوې پیغام یې په لاشعوري ډول ذهن ته ننوتل کیږي.

د انټرنېټي بازار موندنې ځانګړنې

ډیر خلک فکر کوي چې انټرنېټي بازارموندونکي باید انټرنېټي ویب سایټ ولري، دا فکر تر ډیره حده سم نه دی !

په نړۍ کې د ورځې زرګونه ویب سایټونه جوړیږي او له منځه ځي، انټرنېټي بازارموندنه یوازې د ویب سایټ جوړول، ثبت او پکې مالومات خپرول نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انټرنیټي بازارموندنه په دې برخه کې عملي مهارتونه او د بازارموندنې له علم څخه انلاین ګټه اخیستنه ده.
ددې کار لپاره د یوه قوي، ژمن او مسلکي ټیم اړتیا ده، که څه هم پرلیکه بازارموندنې کې سیالان ډیر زیات وي؛ خو تاسو باید پکې خپل ځای ولري.
انټرنیټي کاروبار په هیڅ صورت د یوه حقیقي کاروبار سره نه شو پرتله کولای، په انټرنیټي کاروبار کې ستاسو امکانات او پیرودونکي له حقیقي امکاناتو او پیرودونکو سره د پرتلې وړ نه دي.
په حقیقي کاروبار کې هر څه محدود وي، حتي د پیرودونکو شمیر هم باید محدود وي؛ خو په انټرنیټي کاروبار کې تاسو ممکن له هیڅ ډول داسې بندیزونو او محدودیتونو سره مخ نه شئ.
(پای)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**